PROPERTY OF ACKU

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۷۳
شماره مسلسل ۹۴۰
چهارشنبه ۳ حوت ۱۳۸۴ هـ ش
۲۳ محرم الحرام ۱۴۲۷ هـ ق
22 February, 2006

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

د بريښنا دری اړخيزه ترون په دوشنبه کې لاسليک شو

د افغانستان ، ايران او تاجکستان دبريښنا وزيرانو پس له يوې دری اړخيزې ناستې پرون د تاجکستان په پلازمينه دوشنبه کې افغانستان ته د بريښنا د لېږد او له هغه لارې ايران او پاکستان ته ، د بريښنا دری اړخيزه اودوه اړخيزه دوه ترونونه لاس ليک کړل دغه ۳۳۰ ميګاواټ پروژه به ۴ کلونه وخت ونيسي چې لګښت يې څه کم ۳۰۰ ميليون ډالره اټکل شوی دی د افغانستان د بريښنا وزير اسمعيل خان د لاسليک پر مهال ويلي بريښنا نن په سيمه کې په خپلو کې د ۴ مسلمانو هېوادونو نښلول کېدو وسيله وګرزيده د تاجکستان د بريښنا وزير جوره بيګ محمد اوف وويل لومړی ترون دافغانستان او تاجکستان او وروسته دری اړخيزه ترون د تاجکستان ، افغانستان او ايران د چارواکو ترمينځ لاسليک شو د تاجکستان د (راغون) او سنګ تودې (۱) او (۲) د بريښنا له تاسيساتو څخه به بريښنا يادشويو هېوادونو ته ولېږدول شي دا مهال يوازې ۲ فيصده افغانان بريښنا لري.

د امريکې ولسمشر افغانستان ته هم سفر کوي

د سپينې مانۍ چارواکو ويلي چې جورج ډبليو بوش به د روانې ميلادۍ مياشتې پر ۲۸ هند پاکستان او افغانستان ته سفر وکړي ويل شوي چې بناغلي بوش به په دې سفر کې د هند له لمړي وزير د پاکستان له ولسمشر او په افغانستان کې د خپلو خواکو له اډو نه ليدنه وکړي

د بوش د سفر دقيقه نيټه افغانستان ته نه ده په ګوتو شوې خو کيدای شي چې د مارچ د مياشتې په لمړۍ کې يې د سپرلی الوتکه د لمړي ځل لپاره د افغانستان په فضايي حريم را وځرخي دا له ډيرو کلو راهيسې د امريکا لمړي جمهور ريس دی چې له افغانستان نه يې د ليدنې خبرونه خپاره شوي دي

استرالیا شمار نیروهایش در افغانستان را افزایش می دهد

استرالیا می گوید ۲۰۰ عسکر نظامی دیگر را به افغانستان اعزام خواهد کرد تا به برنامه های بازسازی در جنوب کشور یاری رسانند.

جان هاوارد، صدراعظم استرالیا اعلام کرد این گروه ترکیبی از یک نیروی کار امنیتی و بازسازی خواهد بود.این نیروها قرار است اواخر ماه جون برای انجام ماموریتی دو ساله به افغانستان اعزام شوند و بخشی از واحدی نظامی تحت قوماندانی هالندی ها خواهند بود.

ص۴

هند به د غازو د نل لېږلو کې د طرحې سره يو ځای شي

اټکل کيږي چې هند به د انرژۍ په برخه کې د خپلو اړتياوو د پوره کولو په موخه له ترکمنستان څخه د افغانستان له خاورې پاکستان ته د غازو د نل ليکې د لېږد له طرحې سره يو ځای شي. د هندوستان د نفتو او غازو وزير ويلي ، د دغې طرحې د رسمي پلي له پاره ۹۰ ورځې وخت لري ده ويلي د هند کابينې د تصويب وروسته به دغه طرحه د ترکمنستان ، افغانستان . پاکستان او هند ، په نوم يادې شي

۴مخ

دستگیری متهمین قاچاق مواد مخدر

پولیس دو تن متهم را به اتهام قاچاق مواد مخدر از ولایت تخار درحالی بازداشت کرد که این افراد مقداری هیروئین را درشکم خود جاسازی کرده بودند یکی از این افراد بدلیل نامعلوم پس از بازداشت موفق به فرار شده است . به گفته مسوولان امنیتی این ولایت از شکم یک تن از بازداشت شده گان ۱۸ بسته مواد مخدر بدست آمده ومقدار دیگری هنوز درشکم وی قرار دارد. مدیر قاچاق قوماندانی پولیس تخار میگوید این افراد قصد داشتند که مواد جاسازی شده را به کشور ایران منتقل کنند.

تاریخ تیرشوی درمل وسوځول شول

د ننګرهار ولايت د جلال آباد په ښار کې ۷۵ قلمه مختلف درمل چې تاريخ پرې تير شوی و د هغه ولايت د عامې روغتيا د رياست له خوا وسوزول شول د ننګرهار ولايت د عامې روغتيا رئيس داکتر اجمل پرديس ويلي. ۴مخ

غلا شوي څاروي تر لاسه شول

د بلخ ولايت پوليسو تيره شپه له يوې نښتې وروسته څه د پاسه ۲۸۰ څاروي له وسله والو غلو څخه نيولي دي د بلخ ولايت د امنيه قوماندانې ويانډ شير جان درانې د پژواک خبري آژانس ته ويلي چې وسله والو غلو دغه څاروي دده دادي له ولسوالي څخه غلا کړي او دچمتال ولسوال ته يې ليږدول چې د يوې بڅې په شاوخوا کې د پوليسو سره مخامخ شول درانې دا هم ويلي چې غله تښتيدلي او معلومه نه ده چې څه زيان به ورسدلې وي او که نه خبر زياتوني امنيتي مسوولين څاروي د هغوی خاوندانو ته وسپارل په داسې حال کې چې څه موده مخکې هم پوليسو د مزار شريف د ښار په ۸ ناحيه کې څو وسله وال غله نيولي وو.

طالبان د فوځي زده کړو اوځانمرکو بريدونو ملومونه راباسي

طالبان وايي د خپلو پوځي زدکړو سيډيګاني به ژر تر ژره د اسلام پلوو خوانانو په واک کې ورکړي د طالبانو يو تن سيمه ييز قوماندان د افغانستان او پاکستان تر منځ په قبايلي سيمه کې دا ټکي د نيوزويک مجلې ته څرګند کړي دي. ۴مخ

طالبان یک مکتب دیگر رانیز آتش زدند

مقامات محلی در ولایت جنوبی هلمند می گویند شورشیان مظنون وابسته به گروه طالبان ساختمان یک مکتب را در ولسوالی مرجه این ولایت آتش زده اند. در این مکتب بیش از دو هزار شاگرد پسر آموزش می بینند. ص۴

له بن نه ترلندنه

۳مخ

ورزش ضامن تندرستی

ص ۳

يرغلګرپوځيان ګيله من دي...؟!

۳مخ

د ټولنې او ښيونکې خدای په ياد

سرمقاله

افزایش لشکر بیکاران ، صلح وامنیت را تهدید خواهد کرد!

بیکاری وبی روزگاری مردم درکشور وتسامح دولت درمورد، یکی از معضلات قابل توجهء است که عمدتا ازنظر افتاده است.

طی چهار سال گذشته، اداره های موقت ، انتقالی وانتخابی یکی پی دیگری به میان آمدند، اما هیچگونه التفاتی نسبت به این مسأله نداشته اند.

مقامات حکومت با آنکه پیوسته وعده داده اند، اما کوچکترین تلاش محسوسی که بتواند فرصتهای کاریابی را برای مردم فراهم آورد، صورت نگرفته است .

با آنکه ازیکسو تب رونق یافتن بازار آزاد بالا میرود، ازسوی دیگر گویا تورم تشکیلاتی دراداره‌ء دولت، شکایات مسوولین مالیاتی وتادیاتی را بلند ساخته و ازهمین جهت تنقیصاتی را درتشکیل ادارات مورد تأکید قرار میدهندو رویهمرفته از فشرده ساختن و کوچکتر ساختن ادارات داد سخن میدهند؛ فراتر ازآن ، بازگشت روز افزون مهاجران ازکشور های همسایه وتنگ شدن عرصه برای آنان درخارج از کشور ، میتواند عاملی باشد تا بیشتر ازین تعلل صورت نگیرد.

گفتنی است ، با آنکه تلاش حکومت برای ازدیاد صادرات کشورهای همسایه بخصوص پاکستان درسرلوحهء سیاستهای خارجی آن قرار دارد، هرگز ادارات ومسوولین مربوط با وجود مشاوران ووزرای بی شمار مشاور، این فرصت را نیافته اند تا درایجاد، هسته گذاری وفراهم آوری کارخانه های ولو کوچک تولیدی صرف مساعی کنند.

زیرا بیروکراسی فرساینده وفساد بنیان کن ادارات وحکومت مانع هرگونه سرمایه گذاری وتولید وتأسیس صنایع درکشور میگردد.

وزارت های مربوط برای بالا بردن حجم مالیات وگرفتن تکس بیشتر، جلو هر گونه سرمایه گذاری و تولید داخلی را عملاً گرفته اند.

اکنون که پارلمان تأسیس شده ، آیا این مسأله را درنظر دارد که برخی از وزارتها کارمثمر وسودمندی انجام نداده اند وبعد از چهار سال سیاستهای مالی واقتصادی ما، این توفیق را نداشته اند که بتوانند یک سیستم موثر مالی واقتصادی را به وجود آورند؟

آیا رهبری دولت ملتفت شده اند که هیچگونه هماهنگی کار دربین ادارات ما ریشه نگرفته است.

هرکس برای نیکنام شدن میخواهد به تنهایی توپ را به "گول" برساند.

درپایان به یک نکته میتوان اشاره کرد که یکی از موارد وعوامل فرساینده ء دستگاه اداری درکشور، بیکاری وبی سر انجامی وناديده انگاشتن موقعیت اقتصادی وتأمین زندگی مردم است .

پرسش اینست که آیا ما با ازدیاد لشکر بیکاران به شماره‌ء مخالفان پروسه صلح وامنیت نمی افزاییم؟

وثبات نیم بند درکشور را به مخاطره نزدیک نمی سازیم؟!

دا باید هر چاته څرګنده وي چې دپاکستان په تاریخ کې هلته لاسې غالۍ ندې اوبدل شوي. دسوداګرۍ ،کانواو صنایع وزارت ددې پر ځای چې تر هر څه دمخه يې باید له پاکستان او ایران څخه دخاصو او ځانګړو امتیازاتوپه ورکولو سره داطلایي لاسونه او له استعداده ډک مغزونه وطن ته راستانه کړي وای هغوی تر اوسه هلته دتوهین او غربت په حالت کې شپې اوورځې تیروي ؛ کله له چارواکو پوښتنه وشي چې ولې دوی تر اوسه هلته پراته دي ډیر ساده او دخندا ورځواب وایي مور ورته ویلې چې اوس په وطن کې خیریت دی کولاي شي دوباره وطن ته راشي. مګر په حقیقت کې دا د خلکو غولول دی نه په وطن کې خیریت دی اونه هم دوی دومره مالي امکانات لري چې کډه راپه شاکړي اودلته راشي ،که راشي چیري او کوم ځاي ته ولاړ شي ،چیري واوسیږي او څه وخوري ،دولت ددغو خلکو لپاره چې ملي سرمایه ده کوم ځانګړی پلان لري ؟ او څه ډول مرستې له دوی سره کیږي ؟. متاسفانه دچارواکو دایوه خبره زده ده وطن ته راشي خیریت دی.

دلته مې هغه څه موده پخوا د ۲۰۰۵ کال دجنوري دمیاشتې په ۲۸ نیټه په هالنډ کې د((افغاني کډوال دراتلونکي په لور)) په کنفرانس کې چې زه هم هلته بلل شوی وم دهالنډ دپارلمان دیوې وکیلې میرمن فراه کریمي دوینا یوه جمله راپه یاد شوه هغې وویل : ((زه افغانستان ته تللې وم هلته مې ښاغلی کرزی له نږدې ولید دارګ څلورخواوي مې هم ولیدې باید ووایم کله چې ښاغلی کرزی نشي کولای دځان امنیت وساتې ځنګه کیداي شي دهغو امنیت دي وساتي کوم چې دوباره يې وطن ته غواړې ...)) پداډول شرایطوکې دهغوکسانو په اړوند چې وطن ته راګرځېدل يې په شکل داشکالو دهیواد په ګټه دی دولتي چارواکي ځانګړي امکانات او دژوند دښوشرایط په برابرولو ملي مکلفیت لري / مالي سیستم په ویجاړ حالت کې قرار لري ونشوتوانیدلای چې حتا دملکې مامورینو معاش ددولتي عایداتو څخه ورکړې. ډیر ځیرونکې پدې فکر دي چې دمالیاتو تولول او له فساد سره جدي مبارزه به افغان چارواکو ته د استدلال لپاره هغه منطق ورکړي چې د نړیوالو مرستو لاډیره برخه پرې خپله کړي. جالبه داده یو شمیر کسان چې دغوښتن واک ځښتنان دي کولاي شي له دولت نه مخکې رانیسي او یایې غصب کړي،هلته کورونه جوړ وي او په ښه ګټه يې خرڅوي ،رښتیاخو داده چې دهمدې لاري ځانګړې خلک میلیارډران شول ،ولې ددولت په چوکات کې دښار او کورجوړولو محترم وزارت او یا دکلیو دپراختیا وزارت بیاددې په عوض چې داکارونه تر سره کړي او له دغې لاري دولتي بودجې ته ګټه ورسوي ، هغه دښوونځي تعمیر چې دښوونې او روزنې وزارت ورته ضرورت لري او هغه

کوي چې ځینو ته يې تر دوو کالو پورې او په عین حال کې يې ورکړي او په عین حال کې يې وروزي چې نوی مسلکی زده کړي وکړي. دا کاملا له بهرنیو سرمایداري هیوادو څخه رانقل شوې هغه طریقه ده چې سرمایداران دخپلو ګټو لپاره یا فابریکه تړي او یا يې بل هیواد ته چې هلته يې ډیره ګټه وي لیږدوي بیانو دولت مجبور دی چې هغوی دبلې ریشتې یا مسلک زده کولو ته وهڅوي. دا دسرمایداري ټولنې دورستیو مراحلو تجربه په هغه هیواد کښې چې داقتصادي پر مختګ دفیوډالي او ماقبل فیوډالي مناسباتو سره لاس اوګریوان وي په کوم دلیل کیدای شي عادلانه اوپر ځاي وي؟ زه دخصوصي پانګې اچونې مخالف نه یم ولې زمور دهیواد په دغو ستونځمنو شرایطو کې دامریکا او یاکوم اروپایې هیواد دسرمایه ګذاریو اکته نه مو. نور هم له خوښې هر ورځ دامسله ریکلاموي ،اوداسي دلیل راوړي چې دوې هلته ولاړ شي مزدوري وکړي پیسې به خپلو کوروته رالیږي دابه یوه لویه مرسته وي. مګر ددغو ښاغلو څخه که پوښتنه وشي په نړۍ کې داسې یو هیواد درته معلوم دی چې دمزدورۍ په پیسودې پرمختګ کړی وي په یقین چوپ به پاته شي. بهر ته دکارګرانو لیږل هغه وخت مؤجه او پرځای دی چې زمور په هیواد کې دکاردځای دپیداکولو هیڅ امکانات نه وي. دوی له یوې خوا وایې هر څه جنګ وران کړي دی مور يې له صفره شروع کوو اوله بلې خوا ځوانان دکار لپاره بهر عربي ملکونوته دشیخانو داستثمار لپاره لیږي. ځنګه له دغه ځرګند حقیقت څخه سترګې پټوي چې تر ((۲۰)) زره زیات پاکستاني ،ایراني ، ترکې ،اوهندي کارګران په افغانستان کې کارکوي ددغو هیوادو کمپنۍ نه یوازې داچې په ټول هیواد کې يې تعمیراتې کارونه خاورو سره خاورې کوي ،اوپدغه شکل دهیواد اقتصادي پر مختګ ناشونی کاردی.

دحیرانتیا وړ خبره خولاداده چې پدغو پنځو کلونوکې له ولسمشره تر وزیره یوه هم پخپلو خبروکې دصنعتي پرمختګ اوکرنیزو چارو دمیکانیزه کولو یوه کلمه پر خوله نده راوړې. ایا داددې معنې نلري چې دا اوسنۍ چارواکې په اوبو کې لوټه ایږدي او پر تیریږي؟ همدا دلیل دی چې دملي کادرونو روزلوته هیڅ ډول پاملرنه نه کیږي ،اونه هم یوه فابریکه جوړه شوېده. ډیره جالبه ده پدې شپو او ورځو کښې یوه انجو دعربي هیوادو لپاره دلته ځوان کارپوهان او یا کسبګر لټوي چې هرو مرو به هلته د خټکاریوپه دنده ګمارل کیږي ،ځکه عرب افغان انجینیر او دلوړ تحصیلاتو خاوند ته بل کار نه ورکوي. زمور دولتي اړونده وزارت په زیاته پخپل لاس کې نیولې اوچارواکوته دبډې په ورکولو بل څوک دقرارداد حق نلري او له ځانوسره خپل وزګار کاګران هم راولي ،چې زیات شمیریې دکار په بغل کې په ورانکاریو او استخباراتي چوپړ هم مشغول دی ؛ ولې متاسفانه چارواکي دبیکارانو دشمیر دکمښت په نامه ځوانان بهر لیږي. دا چارواکي وایي دوی یعنې پاکستاني، ایراني ، ترکې او هندي کارګران ماهران دی. داډیر دشرم خبره ده ،مهرباني وکړی تاسو هم ماهران دعربي شیخانو لپاره نه بلکې خپل هیواد ته وروزی. اودلته يې په کار وګماری. داددې بیلګه ده چې دوی نه غواړي داوطن ابادشي دلته زراعت پر مخ ولاړ شي لوبې او وړې فابریکې جوړې شي ،دمځکې نس وسپړل شي کانونه او معدنونه يې دهیواد دپرمختګ لپاره پکار واچول شي همدا ددوی ددغو ماهرانه تلاشو پایله ده چې په هیوادکې سوله نه راځي. په لنډه توګه ویلای شم په هغو برخو کې چې باید ډیر ژر عملي کارونه تر سره شوي وای او خلکو يې ثمر لمس کړئ وای متاسفانه هیڅ کوم ګټور کار تر سره نشو. د((ډایاګ)) پروګرام له نن څخه پنځه مباشتې وړاندې پېل شو او موخه يې د ډي ډي آر یا بې وسلې کولو او ملکي کولو دلړئ دوام دی چې له مخې يې دچارواکو په وینا ((۲۳۰۰۰)) وسله وال کسان بې وسلې شوي او ملکي ژوند يې پیل کړیدی. دلندن په کنفرانس کې ترېکړه وشوه چې د((ډایاګ))پروګرام باید په دووکالو کې پلی شي او ټول وسله وال ګروپونه چې تر اوسه يې په هیواد کښې شمیر تر (( )) اوړې بې وسلې کړه شي ، ددې کار لپاره یو ځل بیا په میلیونو ډالره په پام کې نیول شوي دي سوال دادی چې څنګه کیداي شي فکر وشي چې دا وسله والې ډلې پخپله خوښه وسله دولت ته تسلیم کړي اوددغو بې شمارو ګټوڅخه چې دهیروینو له قاچاق نه نیولې دکوکنارو کښت ،په سیمه کې هر څه دوسلې په زور تر لاسه کول ،لوټول ،دچور اوچپاول څخه دې لاس واخلي ، تر څودولت قوي امنیتي ځواک ونلري داکار ناشونی معلومیږي ؟ نوربیا

د حوت دریمه یا دکابل ښاریانو د هیواد پالنې ښکارندویه ورځ

نابلد

افغانستان د اسیا پدې سیمه کې د خپل جغرافیوي موقعیت او د ځمکې لاندې شتمنیو د شته والي له امله تل د نړۍ د پراختیا غوښتونکو واکمنانو پاملرنه ځانته اړولې او زمور د خاروې د نیولو او خلکو دایل کولو لپاره يې لښکر کشي کړی دی خو په وړاندې يې افغانانو د خپلې ملي یووالي او له خپلې خاورې سره دمینې له امله د بهرنیو نابللو زورواکو پوځي لښکرو په وړاندې ودریدلی دی که وینې يې تویې کړی قرباني يې ورکړی خو غاښ ماتوونکي ځوابونه يې ورکړي دي د بهرنیو نابللو پوځي واکمنانو د تیرې کوونکو حرکتونو په دوام کې شورویانو هم تل زمور د هیواد د نیولو لپاره خپل پلانونه جوړ کړي اود عملي کولو هڅه يې روانه ساتلې وه د شوروي یو مشر یو وخت په هند کې دا خبره کړې وه چې مور غواړو تودو اوبو ته ځان ورسوو او پښې پکې پریمنځو او مونږ غواړو چې د هند او شوروي پولې سره شریکې شي دا هغه وخت و چې د هند پولې په خپل پراخوالی کې پرتې وی او انګریزانو ور باندې واکمني درلوده هماغه و چې روسانو زمور د هیواد د نیولو لپاره خپله هڅه روانه ساتلی وه او په دې هڅه کې وو چې زمور په هیواد کې خپل پلوه واکمني رامنځته کړي د ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمه نیټه هغه هیواد سری لښکرې راغلی حفیظ الله امین ووژل شو او ببرک کارمل يې د واک په ګدی کیناوه.

د ۱۳۵۷ کال د پوځي کودتا له کولو وروسته د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې د دولتي واکمنۍ پر خلاف مقاومت او جهاد پیل شوی و خو د روسانو په راتګ سره يې زیات زور واخیست د ۱۳۵۸ کال د حوت په دریمه نیټه د کابل ښاریانو د شوروياتو پوځي په خپل سر راتګ باندې خپل عکس العمل وښود د کابل ښار په ټولو سیمو کې له هر کور او کوڅې څخه د روس پر خلاف د الله اکبر ناري پورته شوې او په دې توګه کابل ښاریانو وښودله چې هغوی د پردیو پوځي لښکرو په وړاندې هیڅکله سر ښکته کولای نشي خو دوخت د واکمنو له خوا د ښاریانو دغه د وطنپرستۍ حرکت ته د ماشینګنو په خوله ځواب ورکړ خو کابل ښاریانو له خپل هیواد او خلکو سره د مینې د ثبوت په خاطر خپل غږ د واکمنو د زور په وړاندې په تش لاس پورته کړ.

د کابل ښاریانو له نومورې اعتراض امیز غږ څخه د ادې شپږ ویشت کال تیر شول خو هغه تاریخي ورځ لاتر اوسه پورې دخلکو په یاد کې پرته ده چې هر کال يې په دغه ورځ یادونه کیږي دغه اعتراض امیزه انګازې له نومورې نیټې څخه وروسته دومره پراخه شوی چې ټول هیواد يې ونیو او دجهاد لړۍ د هرورځې په تیریدو سره پراخه شوه تر هغه وخت پورې چې شوروي اتحاد د بیرته وتلو په فکر کې او د وتلو لپاره يې زمینه برابروله هماغه و چې د وخت د شوروي اتحاد پوځي قواوی بیرته تګ ته مجبوری شوي شوروي قواوی ووتلی خو دهغوی په وړاندې دافغانانو دتاریخي مبارزې لاسته راوړلی ویاړونه به د تل لپاره د تاریخ په پاڼو کې په زرینو کرښو لیکل شوی وی او دا څرګندوي چې په نړۍ کې هیڅ پوځي زواک نشي کولای په خپل سر له رابللو پرته زمور هیواد ته راشي او که راشي له شرمه ډکو ماتو سره به مخامخ او بیرته به روان وي.

افغانان تل د تاریخ په اوږدو کې د پردیو په وړاندې خپل یو والی ساتلی دی خو دریغه چې اوس معلوم الحاله کړی غواړي چې افغانان په خپل منځ کې سره واچوي او یو شمیر عناصر د افغان هیواد د ورانولو او تخریب لپاره وهڅوي چې په هیواد کې د بیا جوړولو مخه ونیسي او زمور هیواد د تل لپاره په وروسته پاتې والی وساتي اود هغه چا پر خلاف يې وهڅوي چې د افغان هیواد د ابادۍ او ودانولو په لاره کې هڅې کوي او دا کار لدې امله سرته رسوي چې په مستقیمه توګه د افغان هیواد د نیولو تصمیم نشي نیولای غواړي چې داسې واکمني رامنځته کړي چې د تل لپاره د هغوی د واک او بازار موندنی لپاره په خدمت کې وي.

متصدی صفحه : بشیرنذیر

ورزش ضامن تندرستی

دولایتی شورا دکار دپیلیدو په ویاړ لوبې

دغزني ولایت دفوتبال د B کلیونوددوهم پړاو سیالی دامیدلوبډلې په بېړې سره پای ته ورسیدی دې لوبډلی وکولای شول چې دپای په لوبه کې دجاودان لوبډلي ته ما ته ورکړي-او لومړی مقام خپل کړي دا سیالي چې د ولایتي شورا دکار دپیلیدوپه ویاړ ترسره شوي وې ددې کلیونو لسو لوبډلو پکې برخه درلوده.

په سرپل کې دوزلوبې سیالی

دشمالي ولایتونو وزلوبو په هغه سیالیوکې چې دتیري اونۍ را په دېخوا د سرپل په ولایت کې پیل شوې دي د سرپل ولایت لوبډله وتوانیدله چې ددغه سیالی د اتلولی خایی خپل کړي همدا راز دسرپل ولایت د ولسوالیو ترمنځ دامام صاحب په لوبغاړي کې د وزلوبې یولړ سیالي ترسره شوي دغه سیالي نبایی دکال ترپایه دوام وکړی.

مسابقات دوستانه بکس

مسابقات بکس معارف درجمنازیوم لیسه امانی کابل در دومین رؤوزش وارد مرحله نیمه نهایی شد درنتیجه هژده مسابقه که دایر گردید هفت کلپ توانست به مرحله نیمه نهایی راه پیدا کند این مسابقات که از روز شنبه آغاز شده بود و در جریان مسابقات کلپ های معارف، چهاردهی، سباوون، صحت عامه، اختری وکلپ B معارف توانستند باغلبه برحریفان شان به مرحله نهایی راه یابند به گفته سید احمد سادات یکتن از تدویر کننده گان رقابت ها این مسابقات بکس دوستانه که با اشتراک سیزده کلپ شهر کابل بخاطر رشد سطح ورزش درکشور راه اندازی شده قرار است با برگزاری مسابقات نهایی به کار خود خاتمه دهد مسابقات دوستانه بکس کلپ های شهر کابل دربخش های نوجوانان، جوانان وبزرگسالان برگزار شد.

ساموئل اتو برای سومین بار مرد سال فوتبال افریقا شد



کنفدراسیون فوتبال افریقا ساموئل اتو، مهاجم ملی پوش کامرونی بارسلونا را شب گذشته برای سومین بار به عنوان مرد سال فوتبال افریقا انتخاب کرد.

این رای گیری پیش از برگزاری رقابتهای جام ملتهای افریقا توسط سرمربیان تیمهای افریقایی به عمل آمده است.

با این انتخاب، اتو به ریکارد عابدی پله مهاجم سابق غنا رسید که سه بار از سال ۱۹۹۱ تا ۱۹۹۳ مرد سال فوتبال این قاره شده بود.

اتو که در تیم بارسلونا بازی می‌کند ودر این فصل نیز آقای گول لیگ فوتبال اسپانیاست، با کمی اختلاف توانست از دیدیه دروگبا مهاجم ساحل عاجی چلسی در رای گیری پیشی بگیرد.

درخشش ورزشکاران افغان درمسابقات حسن نیت



درمسابقات تکواندو موسوم به مسابقات حسن نیت که درشهر لکنهو هندوستان جریان دارد افغانستان تا به حال درمقام اول قرار دارد مسوولین کمیته ملی المپیک کشور میگویند درین مسابقات حدود ۳۰ کشور شرکت کرده اند. که ۱۵ ورزشکار افغان در دو گروپ درین مسابقات بازی کرده اند تا حال برنده ۱۱ مدال طلا و ۲ مدال نقره شناخته شده اند. همچنان بعد ازافغانستان هند درمقام دوم و مالیزیا درمقام سوم این مسابقات قرار دارد.

هفتمین روز بازی‌های زمستانی ۲۰۰۶تورین ایتالیا

هفتمین روز بازی‌های زمستانی ۲۰۰۶تورین ایتالیا، با اسکی در مسافه ۱۵کیلومتر کلاسیک پیگیری شد.دراین مسابقات که با حضور یکصد اسکی باز از ۸۴کشور جهان برگزار شد آندره ورپالو از استونی با زمان ۳۸دقیقه و یک ثانیه و سه صدم ثانیه مقام نخست را کسب کرد، لوکاس بائور از کشور چک با زمان ۳۸دقیقه و ۱۵ثانیه و هشت صدم ثانیه، توبیاس انگره از آلمان با ۳۸دقیقه و ۲۰ ثانیه و پنج صدم ثانیه به ترتیب مقام دوم و سوم این رشته را کسب کردند.در روز هفتم این رقابتها، تیم آمریکا با ۶ طلا و۳ نقره و یک برونز همچنان در صدرجدول توزیع مدالها قرار دارد، آلمان با ۵ طلا و ۴نقره و ۲ برونزدرده دوم و روسیه با ۵ طلا، ۲ نقره و۴ برونز در رده سوم است. دراین رقابتها که از روز ۲۱دلو آغاز شده وتا هفتم حوت ادامه دارد، تاکنون ۶۴مسابقه در ۱۵رشته انجام و ۱۳۰مدال توزیع شده است.



معرفی کردن فدراسیون های ورزشی به سکتور خصوصی

کمیته ملی المپیک کشور درنظر دارد شماری از فدراسیون های ورزشی را به سرمایه گذاران خصوصی واگذار کند .محمد انور جگدلک رئیس کمیته ملی المپیک گفته است بدلیل اینکه دولت نمیتواند مشکلات ورزشکاران را بطور کل حل کند این تصمیم گرفته شده است.

این درحالیست که کمیته ملی المپیک کشور همواره ازکمبود بودجه شکایت داشته که آنها نمیتوانند درحصه عصریه ورزشکاران ومصارف سفرهای ورزشی که بعضاً ورزشکاران با نبود بودجه ازمسابقات بازمانده اند روبروهستند.

دبایسکل ځغلولو ټیم ایران ته لاړ

دهیواد دبایسکل ځغلولو ټیم په یولړ سیالیوکې دګډون لپاره دایران اسلامي جمهوریت ته ولاړ دالمپیک دملي کمیتی ویاند غلام جیلانی غروب پدي هکله داسي وویل دبایسکل ځغلولوپدي ټیم کې شپږ بایسکل ځغلوونکي، دوه استادان او دټیم رئیس شامل دی تاکل شوی ده چې دغه سیالي به دفبروري دپنځه ویشتمی نه د ۲۰۰۶ کال دمارچ پنځمی پوري دایران داسلامي جمهوریت د زاهدان په ښارکې وشي داسیالي به په اوو مرحلو کې د ۱۷۰۰ کیلومترو په واټن کې وشي او نومورې ټیم دي سیالیو ته پوره تیاری نیولي او هیله مندیو چې زموږ لوبډله به له دی سیالیو څخه ښه لاس ته راوړي ولری.

تیم ملی کرکت کشور درکویت

به روز دوشنبه هفته جاری تیم ملی کرکت کشور سومین مسابقه خود را درکویت با تیم ملی بحرین برگذار کرد شهزاده مسعود رئیس فدراسیون کرکت کشور اظهار داشت که تیم کرکت کشور دومسابقه جالب را باتیم های کرکت عربستان سعودی وکویت درچار چوب مسابقات کشورهای شرق میانه انجام داده است که درنتیجه در هر دو مسابقه تیم کرکت کشور پیروزی را ازآن خود ساخت مسابقات کرکت کشورهای شرق میانه از روز جمعه به این طرف آغاز شده وتا آخراین هفته ادامه میبابد رئیس فدراسیون کرکت کشور گفته است که ورزشکاران افغان برای انجام مسابقه تمرین لازم را داشتند وانتظار میرود که تیم کرکت کشور بتواند دراین مسابقات نیز موفقیت بیشتری کسب کند وی همچنان افزود که تیم کرکت کشور در شهر پشاور پاکستان ده مسابقه را انجام داده که در شش آن به پیروزی دست یافته است.

یرغلګر پوځیان ګیله من دي...؟!

محمد زبیر ((شفیقی)

د سلواغې پر ۲۶ مه ((د فبروری ۱۵ مه)) په روسیه کې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو اوولسمه کلیزه ونمانځل شوه، خبري رسنیو په دې اړه بیلا بیل رپوټونه ورکړل په یوه راپور کې ویل شوي وو چې هغو روسیي پوځیانو چې په افغانستان کې جنګیدلی وو له خپل حکومت څخه ګیله کړې ده چې دوی ته یې پاملرنه نه ده کړې او دوی هیر کړای شوي دي، په داسې حال کې چې د روسیي حکومت د پخواني شوروي د ځای ناستي پر ځای له افغانستان څخه دشوروي پوځونو د وتلو کلیزه ونمانځله او هغه سرتیري یې وستایل چې په افغانستان کې یې په جګړه کې برخه اخیستې وه. که مورې د افغان او روسیې پر اولس را ودانګل، زمورې اولس یې د مرګ پر ډګر واړاوه، په لکونو هیوادوال مو ووژل شول او هیواد مو لوټه لوټه شو، خو شوروي د خپل غرور سزا وګالله او پر ۱۶ ټوټو وویشل شو، چې اوس یې روسیه پر میراث پرته ده.

روسیي پوځونه د شوروي په ترکیب کې زمورې هیواد ته په زور راغلي وو، وینې یې تویې کړې، میندې یې بوري او خویندې یې وراري ژوندانه یې ځانګړې امتیازونه لري، د ساري په توګه په سفر کې، په هوټل او رستورانت کې په تفریح .... غرض د ژوند په ټولو اړخونو کې دوی تر نورو کسانو یو ځانګړی امتیاز لري، ځانګړي کارتونه لري چې پرې پیژندل کیږي او له امتیاز نه یې برخمن دي. د جبر او تیري د پوځ برخه الوتکې، ټانکونه او نور وسایل اوس په موزیمونو کې ایښودل شوي دي. هغوی اوس بیا هم ناخوښي دي. دوی وایي چې هیر شوي یو...؟!

دلته دهیواد ساتونکي، د پردي یرغل پر ضد د میرانې او تورې ستې په داسې توروتور رنګ او بدنامې شوې چې اوس به ډیر په ګرانه پردې اعتراف کوي چې دوی د هغه معین ملا خاکسار چې څه موده د مخه د طالبانو له خوا شهید کړای شو د پاکستان د تیرې مخه ونیوله.

ملا خاکسار د سیمې د خلکو په بدرګه بناپښ ته لاړ په بناپښ کنډو کې یې افغان بیرغ جګ کړ د مخته راتګ څخه یې منع کړل خو تر ونیوله په هغه وخت کې خو لا ښه وو چې ځینو مشرانو خو حلال نمکی کوله لنډه دا چې هغه پلان شنډ شو.

د طالبانو په مهال بیا پاکستان لوری وغوښتل چې بناپښ کنډو څخه راتیر شي خو د کورنیو چارو د وخت دوه اولسونه او حکومتونه چې په نړۍ پرون کې یو له بل سره لاس او ګریوان وو سره پرتله کړو ډیر ترخه حقایق به را برسیره شي، وبه ګورو چې افغان اولس اوس هم څومره مظلوم دی، او څومره لوی ظلم ورسره شوی او کیږي.

پرون شوروي اتحاد زمورې طالبانوروسته د بهې د نیولو هڅې ګړندی شوی له بناپښه تر ګوسړی پورې اوږده پرته سیمه قبایلي سیمه نه بلکې د افغان خاورې جز ګڼل کیږي خو په ۲۰۰۳ کال د جون په ۱۹ نیټه د کوډاخیلو د قوم په نامه د افغان سرحد جانین ګی اپ سب مشران و کشران (خاوری) ذمه داری کی تحت اپنی اپنی علاقه (خاوره) می استقبال او تحفظ کا انتظام کرین .. اګر کسي نی کویی غلط حرکت کی تو اسی دشهت ګر قرار دیا جای گا ..

د جون په شلمه نیټه د مهمندو ایجنسی پولیټیکل د پوځ او ملیشی په ملاتړ د خویزو د مشرانو په همکاری را تیر شو او تر کوډاخیلو پورې راغی د فضل المنان له استقباله دروازی سره یې د تیلو په یوه پمپ کې له پخوا څخه ولاړ افغان بیرغ د کوزولو لپاره یو شیبه ځنډ وکړ او د پاکستان بیرغ یې لوړ کړ چې تر اوسه ولاړ دی او بیا د کوسړی خواته چې افغانی سیمه ده وخوځید د ګاډو او هلیکوپترو اواز په هغه سیمه کې فضا بل ډول کړی وه ډیره خلک خوشاله او لږ خلک خپه وو نو هماغه و چې اوس له ګنډاو څخه ان کوډاخیلو پورې سړک پوخ شوی دی او د پاکستان واکمنی پرې روانه ده خو لا اوس هم زمورې مهمند او اپریدي ورونه وایي چې مونږ تر ورویستي سلګی پورې د افغانستان د پولو دفاع کوو!!

څه لیدلي څه اوریدلي

نابلد

تاریخ تیر شوي درمل...

دغه درمل چې ارزښت یې څه د پاسه ۵ لکو افغانیو ته رسیده له ۵۵ درملتونونو څخه یې راټول کړي دوزارت د منسوبینو او د ولایت د یو شمیر دولتي ادارو د کار کوونکو په وړاندې وسوزول.

خبر زیاتوي چې د ننګرهار ولایت د روغتیا مسوولین وایي دی په دې لاره کې ډیره هڅه کوي او هیچاته دی اجازه نه ورکوي چې زاړه او له کاره لویدلي درمل په خلکو وپلوری همدارنګه د خوست په ولایت کې د عامې روغتیا رئیس داکتر امیر پادشاه منګل هم وایي د خوست ولایت د عامې روغتیا د ریاست مسئولینو د خوست په بښار کې د مختلفو درملتونونو څخه نړۍ څلور تنه زاړه او بې کیفیته درمل نیولي او پرون یې د ولایت د مشرتابه پلاوي په وړاندې وسوزول په داسې حال کې چې څه موده مخکې هم د عامې روغتیا دمسئولینو له خوا اوه تنه زاړه او غیر قانوني درمل هم نیول شوي او سوزول شوي و د خوست ولایت ته دا ډول درمل ډیر ځلي له پاکستان څخه په قاچاقي توګه راوړل کیږي.

رادیو ازادي

استرالیا شمار نیروهایش...

استقرار آنها شمار نیروهای استرالیایی در افغانستان را تقریبا دو برابر کرده و به ۵۰۰ نفر خواهد رساند.

در ماه جنوری، استرالیا استقرار ۱۱۰ عسکر نظامی دیگر در افغانستان برای مبارزه با تروریزم را اعلام کرده بود.

در آن زمان همچنین اعلام شد که دو هلیکوپتر ترابری شینوک نیز به نیروی ۱۹۰ نفری استرالیا که از قبل در افغانستان مستقر بودند خواهند پیوست

طالبان یک مکتب...

مسئولان امنیتی در هلمند می گویند همه کتابهای درسی به شمول چندین جلد قران که در داخل این مکتب موجود بوده، آتش گرفته است. بر اساس گزارش ها، این پانزدهمین مکتب در ولایات جنوبی است که ظرف دو ماه گذشته به آتش کشیده می شود. حمله شورشیان به مکاتب در کشور تاکنون به مرگ چندین معلم و دانش آموز منجر شده است.

هفته های پیش نیروهای امنیتی در ولایت غزنی، سه نفر به شمول یک فرمانده وابسته به طالبان را به اتهام آتش زدن مکاتب بازداشت کردند. سخنگویان طالبان تاکنون در چندین مورد مسئولیت آتش زدن مکاتب و حمله به معلمان و دانش آموزان را به عهده گرفته اند. یک فرمانده طالبان اخیرا ادعا کرده است که آنها مکاتبی را که به گفته او در آن برای دین مسیحیت تبلیغ می شود، هدف قرار می دهند.

طالبان د فوځي زده کړو...

نومورې ویلي د طالبانو مشر ملا عمر دوی ته امر کړی چه ژر تر ژر دي دا سیډي په سلګونه زره کاپی برابري او خپرولو ته چمتو کړي د دي سیدیانو د برابرونې سیمه د افغانستان سویلي ولایتونه په نښه شوي دي

د طالبانو دې قومندان دې ته هم اشاره کړې چې په دې فلمونو کې به د ځانمرګو بریدو او ورته نورو بریدو د زدکړي لاري چاري هم هغو ځوانانو ته ور وښیي چې د امریکا او د هغه د پلویانو په وړاندې د جګړې خیال ورسره وي ویل شوي چې دا فلمونه به د افغانستان پاکستان عراق او د عربو د سمندرګي تر څنګ د پرتو ځوانانو په واک کې هم ورکړه شي

هند به د غازو د نل لیکې...

یو بل هندي چارواکي ویلي د ایران، پاکستان او هند د طرحې د اجرا په پرتله دغه طرحه چې د اسیایي بانک ملاتړ له ځان سره لري، ډیره هوسا ده او د امریکایي او اوروپایي شرکتونو د بندیز له خطر سره به مخامخ نه شي. هند د دغې طرحې په نهمه ناسته کې ګډون وکړ. دغه ستره پروژه ۳ اعشاریه ۵ میلیارد ډالر لګښت لري، چې له ترکمنستان څخه د پاکستان تر ملتان پورې ۲ اعشاریه ۹ میلیارد ډالر او له هغه ځای څخه بیا د هند تر پولو پورې ۲۰۰ میلیون ډالر لګښت پرې راځي. له ترکمنستان څخه تر ملتانه ۱۲۷۲ کیلومتر اوله ملتانه د هند تر پولې ۲۴۰ کیلومتره اوږدوالی لري.

زیرنظر هیات تحریر انتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
eradadaily@yahoo.com